# پیغور

دلته چا راوړی داسی د جنګ اوردی
چی قاتل اومقتول هریو زما وروردی

د پردي په فرمان،یووروربل وروروژني
د یوورورلاس د بل ورورپه وینوسوردی

د خپل کوربچیان موکورپه ډزو ولي
مونږپخپلولاسو وران د بابا کوردی

نن د هردښمن پدی جګړه کی لاس دی
هردښمن وسله وال کړی خپل مزدوردی

لږهوښیارشئ ای غیوروافغانانو
دلته هردښمن دام ایښی په هرلوردی

راشئ ستونزې د جرګې له لارې حل کړو

دا جګړه خو اوس د ټول ملت پیغورده

د پردي په ضد به یوځای قیام وکړو

چاچې دلته شروع کړې د جنګ شوردې

الحاج الهام الدین قیام

15/04/2015